د تیتانوس میکروب؛ دا په خاوره کې، د څارویو سرې، په خاورې ککړ شوي نوکان، تار، کینچی، پاکي او د زراعتي په وسایلو کې موندل کیدی شي.

د تیتانوس میکروب؛ د بدن د چاک/ زخم څخه لکه لاس، پښه او داسي نورو لارو داخلیږي.

ناروغي هغه وخت رامینځته کیږي کله چې میکروب بدن ته ننوځي او په عصبي سیستم کې میشته شي.

شدید درد او اختلاطات کیدای شي وژونکي وي.


## د تیتانوس ناروغۍ څخه څنګه مخنیوی وکو؟

← داسی جامې لکه دستکشې او بوټان باید واغوستل شي ترڅو د ټپي کیدو مخه ونیول شي.

← که چیرې یو څوک په ځمکه کې د کار کولو یا کوم کار په وخت کې ټپي او یا کوم څاروی له طرفه ټپي شي، نو باید ژر تر ژره د ټپي ځای په صابون او اوبو ومینځئ او نږدې روغتیایی اداري ته عریضه وکړي.







## څنګه کولای شو چې د تیتانوس ناروغۍ څخه د زیږون مخکی او وروسته مخنیوی وکړو؟

**په وخت د تیتانوس واکسین کول د تیتانوس ناروغۍ مخه نیسي.**

← زیږون باید په روغتون کې ترسره شي

← د ټیتانوس واکسین د نورو واکسینونو سره ټولو ماشومانو ته ورکول کیږي.

← د دې لپاره چې نوي زیږیدلي ماشومان (لومړي 28 ورځې) د تیتانوس څخه مړ نه شي نو اومړې، امیندواره میرمنې باید د تیتانوس واکسین ترلاسه کړي.

لومړی ډوز واکسین: د حمل له څلورمې میاشتې وروسته.

دوهم ډوز واکسین: دا باید د زیږون څخه 1 میاشت دمخه یا لږترلږه 1 میاشت وروسته ترسره شي.

دریم ډوز واکسین: د زیږون څخه شپږ میاشته وروسته.

څلورم ډوز واکسین: د دویم ډوز څخه دوه کاله وروسته، د امیندوارۍ په پام کې نیولو پرته.

پنځم ډوز واکسین: د څلورم ډوز څخه 1 کال وروسته، د امیندوارۍ په پام کې نیولو پرته.

**د واکسین کارت باید وساتل شي او د اړتیا په وخت کې روغتیایي پرسونل ته وښودل شي**

امیندواره میرمنې؛ د تیتانوس واکسین ترلاسه کولو لپاره، کولی شي د ټولنې روغتیایی مرکز کې د کورنۍ درملو، د کډوالۍ روغتیا مرکز یا د بهرنیو اتباعو پولي کلینیک (د تلفون انتن نه لرونکې ځایونو کې) ته مراجعه وکړي.

**د 15-49 کلونو ترمنځ میرمنې باید ژر تر ژره درې ځله د تیتانوس واکسین ترلاسه کړي.**

د تیتانوس ناروغي د مور او په ځانګړي ډول د ماشوم لپاره وژونکې کیدی شي!



د تیتانوس واکسین د پنځه ګډ واکسین په بڼه 6,4,2 می میاشتې او 18 میاشتې کې لګول کیږي

په 48. مه میاشت کې، یو بوسټر دوز د څلور اړخیز ترکیب واکسین په بڼه ورکول کیږي

په 13. کلنی (156. مه میاشت) کې، د بالغ ډول ډیفتیریا - تیتانوس واکسین سره د بوسټر دوز په ورکولو دوام مومي.



## د تیتانوس د مخنیوي تر ټولو اغېزمنه لار د بشپړ واکسین کول دي.

د تیتانوس واکسین د مهاجرینو په روغتیایی مرکزونو کې وړیا تزریق کیږي.

دا خپرونه د اروپایي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده. د دې محتویات یوازې او یوازې د ترکیې د جمهوریت د روغتیا وزارت مسؤلیت دی او د اروپایي اتحادیې نظرونه نه منعکس کوي.

**مناسب ځای، ښه خدمت**

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتیایی مرکز ته ورشئ.

sihhatproject www.sihhatproject.org sıhhat



This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي

# تیتانوس په واکسین سره د مخنیوي وړ یوه ناروغي ده!

sıhhat